DMCA.com PROTECTED & MONITORED

Uploading to other domains or freeware drives is prohibited

Pukhto.Net
پښتو

# سهـــرې

**شپېر زمان سیماب**

ټـــول حـــقونه محـــفوظ دی

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | سهرې |
| مولف | : | شېرزمان سېماب |
| کمپوزنګ | : | سعید احمد انجم |
| شمېر | : | ۵۰۰ |
| بیعه | : | سل روپۍ |
| د چاپ کال | : | ۲۰۱۳ء |
| چاپ ځائے | : | جان کتاب کور کبل سوات |
| خورونکی | : | تانه ادبی ټولنه |

جان کتاب کور کبل سوات
نقیب احمد جان اینډ برادرز حاجی اقبال پلازه کبل سوات فون: +92 345 951 6961
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

# د مؤلف پېژندګلو

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | شېرزمان سیماب |
| د پلار نوم | : | الحاج ګل محمد |
| د پېداو ښت نېټه | : | ۱۰ فروری ۱۹۷۴ |
| د زېږون ځائے | : | تانړه ، ملاکنډ |
| تعلیم | : | ایم اے پښتو ګولډ میډلسټ<br>ایم فل |
| دا وخت | : | پی ایچ ډی ریسرچ سکالر |
| پېشه | : | ریسرچ افسر پښتو اکېډمی ، پېښور پوهنتون |
| چاپ اثر | : | د دار په سر (نظم)<br>سهرې (همدا اثر) |
| نا چاپ | : | په ملاکنډ کښې د پښتو غزل ارتقاء ( د ایم فل تحقیقی مقاله)<br>زما د شوق لېونتوب (ازاد نظمونه) |
| درک | : | پښتو اکېډمی پېښور پوهنتون |
| رابطه | : | ۰۳۴۳ ۸۹۸۲۲۸۹ |

**نقیب احمد جان**

ایم فل اردو پی ایچ ډی ریسرچ اسکالر اردو اداره ادبیات و لسانیات پېښور پوهنتون

ایم اے پښتو ګولډ میډلسټ

# لیک لړ


❖ د سیماب په سر ګلورینه سهره ډاکټر اقبال نسیم خټک ۱۰
❖ د لفظونو سهرې شباب رانیزے ۱۷
❖ دسیماب د واده محفل مشاعره فضل معبود صائم ۱۹
❖ دا سهرې شېرزمان سېماب ۲۲
❖ مننه شېر زمان سیماب ۲۷


## سهره نګاران


۱ ـ پروفېسر محمد نواز طائر ۲۹
۲ ـ لا ئق زاده لا ئق ۳۳
۳ ـ پروفېسر اباسین یوسفزے ۳۷
۴ ـ محمد حنیف قېس ۴۰
۵ ـ ظفر علی ناز ۴۷
۶ ـ ډاکټر دیدار یوسفزے ۵۰
۷ ـ محمد نعیم رېحان ۵۵
۸ ـ سید صابر شاه صابر ۵۷

۹ ـ شهزاده پرنس ۵۸
۱۰ ـ طاهر شاه یاسر ۵۹
۱۱ ـ بخت بلند بلند ۶۰
۱۲ ـ محمد طاهر مغموم ۶۲
۱۳ ـ صابرسوات ۶۴
۱۴ ـ محمد جاوید اظهر ۶۷
۱۵ ـ خیال سپید ابادی ۶۸
۱۶ ـ ناصر امین ۷۲
۱۷ ـ فاروق شاه ساحر ۷۳

# تـــرون

# د ژونـــــــد
# د مــلګـــری
# پـــه نـــوم

سيماب

د اکست اتلسمه
یو د پاسه دوه زرمه

دا نېټه مې د وادهٔ ده
خدائے سا ته مې د هر غمه

سیماب

د خوبونو شهزادګۍ مې ده په ځنګ کښې
چې ارزو د زندګۍ مې ده په ځنګ کښې

یــو دعــا مــې وه قبولــه شــوه ســیمابه
ګلبدنــه لېــونۍ مــې ده پــه ځنــګ کښــې

د محبـــت د الفتونـــو ســـهرې
دا دی د ټکـــو د لفظونـــو ســـهرې

دا دی زمـــا د ادبـــی ملګـــرو
د تخیـــل د تصـــویرونو ســـهرې

کــه د ګلونــو وې نــو ورکــې بــه وې
صــدا بهــار دی د فکرونــو ســهرې

سیماب

# د سیماب په سرګلورینه سهره

د سهره لفظ ډېر زړه راښونکے او فرحت بخش دے .د سهرې د نوم په اورېدو د بنده خیال د خوشحالۍ ، رنګا رنګ جامو او د موسیقۍ هغه سرونو ته لاړ شی چې موسیقاران ئې د چا د وادهٔ په موقع وچیړی او د نزدې کلیو یا بانډو اوسېدونکی د ډولونو او سرنا د سرونو نه دا اندازه لګوی چې جنجیان د ناوې د کور په لور د روانېدو تیاری کوی ماته ښه یاد دی چې زمونږ په سیمه کښې به د سحر د نمانځهٔ نه چې د ډولونو او سرنا یو خاص سُر (شهنائی) شروع شو .خلق به د وادهٔ د زلمی کور ته راغونډېدل شروع شول د خواؤ شا کلیو ښځې، ماشومان او زلمی به په نوو اورنګا رنګ جامو کښې داسې ښکارېدل لکه چې دوئ د ښاپېرو د وطن اوسېدونکی وی د واده د روانیدو په وخت به نارینه مخکښې تلل ډولونه به غږېدل ډزې به کېدې او په سرو پسې په څه فاصله به د رنګا رنګ جامو ښځې د ورا په شکل کښې روانې وې او د وادهٔ سندرې به ئې وئیلی او د خپلو لوپټو پیڅکی به ئې هم په فضا کښې رپول.د زنانو نه د څو قدمو په فاصله به ښائسته کړې شوی اوښان چې نوې نخۍ به پرې

غـوړولې شـوې وے روان وو ـ د اوښـانو پـه پښـو او ورميـږو نـو کښـې ډګونګروګانو امېلونو به يوه زبردسته موسيقى پېدا کوله چې زړونه بـه ئې راښکل۔

په ورايـا وادهٔ کښـې شـامل ټول جنجيـان بـه دومـره خوشـحاله وو لکـه چې دا د دوئ وادهٔ وى هغـه د چـاخبره چـې **بیگانی شادی میں عبداللہ دیوانہ** د ځنې زلمو او جونو جوش خو به دومره اوچت لاړ چې دوئ به بېخـى د خپـل معمول نه بدل بدل ښکاريدل۔ هلږو چا به د بل خبرې تـه غـوږ نـه کېښـودو او لکه د مست چنې به ئې اتڼ اچولو او په خود به نه وو ـ چې د نـاوې کـور ته به جنجيان اورسېدل هلته به باقاعده ډانس کېدو۔ د ميلمنو تواضـع بـه هم کېده او په ټوپکو به نخښه (موخه) هم ويشتلے کېده۔

زمـا خيـال وو چې زهٔ بـه د ښـاغلى سيماب د سـهرې پـه بهانـه د سهرې په تاريخ او د دې په ثقافتى او ادبى اهميت يوه مقاله ولـيکم اوکـه چرته مقاله ترې جوړه نه شوه نـو يـو خونـدور غونـدې مضـمون خـو بـه تـرې جوړ شى خو داسې و نه شوه اصل کښـې د پښـتو پـه شـعرى ادب کښـې دا معلومول چې په پښتو کښې ړومبۍ سهره چا ليکلى دهٔ اسان کار نـه دے ، دې د پاره به د شلمې صدۍ ټول چاپ شوى ديوانونـه کتـل غـواړى چـې مصروفياتو ما ته د اجازت نه راکولو۔

زما خپله اندازه دغه دۀ چې په پښتو کښې د سهرې د ليکلو روايت دومره زوړ تاريخ نه لرى زيات نه زيات به دغه روايت په شلمه صدى کښې شروع شوے وى او بيا د دې د ليک کال معلومول هم کار دراز ، زۀ دا هم فکر کوم چې عظيم خوشحال چې په ټولو شعرى اصنافو ئې طبع ازمائى کړې دۀ او که چرته په خپلو ودونو د زامنو نمسو په ودونو يا د خپلو نزدې دوستانو په ودونو ئې سهره ليکلې وے نو نن به مونږ نه په روايت پسې کرېدو او نه په کال پسې ممکنه دۀ چې هغه وخت دغه روايت نه وو يا د خوشحال فکر ته دا خبره نه وۀ راغلى.

البته په اردو کښې د سهرې روايت موجود دے د مغل بادشاه بهادر شاه ظفر د زوئ جوان بخت په وادۀ شيخ محمد ابراهيم ذوق او مرزا اسد الله خان غالب سهرې ليکلې دى. ذوق د بهادر شاه ظفر د اردو شاعرۍ استاد وو او هغه وخت به دۀ ته څلور روپۍ مياشت معاوضه ورکېدله. خو د معاوضې نه زيات هغه اعزاز وو چې دے د بادشاه استاد دے ذوق په خپله سهره کښې وائى:

اے جواں بخت مبارک تجھے سر پہ سہرا
آج ہے یمن و سعادت کا تیرے سر سہرا
تا بنے اور بنے میں رہے اخلاص بہم
گوندھیے سورۂ اخلاص کو پڑھ کر سہرا
جس کو دعویٰ ہو سخن کا یہ سنا دے اس کو

دیکھ اس طرح سے کہتے ہیں سخنور سہرا

د ذوق او غالب تر مینځه به همیشه شاعرانه چشمک جاري وو او چې موقع به په لاس ورغله نو د یو بل د پښې په راښکلو به ئې صرفه نه کوله. غالب هم د جوان بخت شهزاده سهره ولیکله:

خوش ہو اے بخت کہ ہے آج تیرے سر سہرا
باندھ شہزادہ جواں بخت کے سر پہ سہرا
سات دریا کے فراہم کیے ہوں گے موتی
تب بنا ہوگا اس انداز کا گز بھر سہرا
ہم سخن فہم ہیں غالبؔ کے طرفدار نہیں
دیکھیں اس سہرے سے کہہ دے کوئی بڑھ کر سہرا

د سهرې د مقطعې د دویمې مصرعې نه داسې بوئ راځي چې ګنې غالب په ذوق د ټک کولو کوشش کړے دے هر کله چې ذوق د بهادر شاه ظفر استاد وو نو د غالب سره ویره پیدا شوه چې دغه په دې رویه بادشاه سلامت د دهٔ نه ناراضه نه شي نو د معذرت د پاره ئې یوه قطعه اولیکله او دا ئې اووے چې زما روئ سخن د چا په لورنه وو.

اګر که د اردو شاعرۍ په تاریخ کښې د سهرې د روایت څه پته نه لګي خو دغه روایت په اردو ادب کښې ودهٔ کړی دهٔ.

اګر که سهره په مروجه اصناف سخن کښې نه شی شمارلې او د یو تسلیم شده او مقبول عام صنف درجه ئې نه دهٔ موندلې خو د مضمون له مخه سهره د نورو اصنافو نه کم جاذبیت نه لری د سهری د لیکلو روایت څه متنازعه هم نه دے اخر په دې کښې کوم ادبی قباحت دے که د چا ملګری شاګرد او مرید په وادهٔ بنده د خپلې خوشحالۍ اظهار د سهرې په شکل کښې اوکړی ـ سهره د واده په خوشحالۍ کښې اضافه کوی ـ زما خیال دے چې اوس وخت راغلے دے چې د چا د وادهٔ په موقع د سهره ایزې مشاعرې د اهتمام روایت مستحکم کړې شی دغه روایت ډېر په اهتمام مخ په وړاندې بوتلل پکار دی که چرته شاعران په پسرلی کښې دګل مشاعره په ربیع الاوّل کښې نعتیه مشاعره په محرم کښې مجلس مسالمه او د مشاهیرو د پیدا ښت او تلین په موقع باقاعده مشاعرې کوی نو بیا دې د خوشحالۍ په دغه موقع سهره ایزه مشاعره ولې و نه شی خوشحالئ د چا جاګیر نه دے په خوشحالۍ د هر چا حق دے ـ مشهور فلسفی شاعر عمر خیام په یوه موقع وئیلی وو ـ چې په دې دنیا کښې زمونږ د استوګنې موده ډېره کمه دهٔ ـ دلته د خوشحالۍ لمحې ډېرې کمې او د غم لمحې ډېرې زیاتې دی نو پکار دی چې مونږ د خوشحالۍ هره لمحه او هره موقع په خوشحالۍ او په شایان شان طریقه او نمانځو ځکه چې د خوشحالۍ دغه لمحې بیا بېرته نه راځی ـ

ښاغلے شېر زمان سيماب يو لوستے او پېژندلے وېژندلے زلمے دے ښه ادبي او شعري ذوق لري زما د ښو ښو شاګردانو په حلقه کښې شامل دے بلکې زۀ به بغير د څه ترديد د ويرې دا اووايم چې زما ښه ښه شاګردان د ملاکنډ پېداوار دي.

د ښاغلي شېر زمان سيماب د کور ودانۍ په خوشحالۍ کښې مونږ ټول برابر شريک يو د هغه خوشحالي د هغه د والدينو ورونو عزيزانو او ملګرو خوشحالي دۀ او چې کومو ملګرو د دغه خوشحالۍ اظهار د شعر په ژبه کړے دے دا يقينا د داد قابل دي ځکه چې شعر دائمي ژوند لري .د ښاغلي شېر زمان سيماب د ځوانۍ سپرلے به تېر شي او د هرچا د ځوانۍ د سپرلي دغه لاره دۀ او په خپل مخصوص وخت به پرې د پيرۍ خزان مسلط شي خو هر کله چې دې د سهره ګانو دغه کتاب راواخلي او په لوستو ئې شروع وکړي نو د خپلې پخې ځوانۍ يادونه به ئې په زړۀ کښې په چپو شي او ددۀ په طبيعت کښې به د فرحت او د خوشحالۍ جنبش پېدا کوي او د دۀ احساساتو ته به تازګي او تقويت وربخښي په دې کښې هېڅ شک نشته چې د ماضي خوږه يادونه عارضي طور سره د زړۀ نه خفګان Dejection لرې کړي او د ژوند په اخرې مرحله کښې بنده هم په دغه خوږو يادونو وخت اړوي.زما يو شعر دے چې

د ژونـد خوندونـه د ځـوانۍ د پسـرلي سـره وو
اوس په يادونو ژوند تېرېږي ځواني پاتې نه شوه

د شېر زمـان سيماب د وادۀ پـه موقـع چې کومو ملګرو د زړۀ د خلاصه ښائسته ښائسته او خوږې خوږې سهرې ليکلې دي دوئ ټول د مبارک باد مستحق دي. د دوئ دغه سهرو د سيماب صېب ژوند ته دوام ورکړے دے. پکار دي چې نور شاعران هم دغه روايت مخ په وړاندې بوځي. په يو بل خوشحالۍ اوويشي او غمژنه فضا د خوشحالۍ او مستۍ د نغمو نه ډکه کړي. دا به په ټولو خلقو بلکې په پښتو ژبه د دوئ لوئے احسان وي او په دې کښې به زۀ د خپلې برخې قرض ښه په اخلاص سره ادا کوم. راځئ چې په چم ګاونډ کښې د خوشحالۍ په موقع د خوشحالۍ سندرې اووايو. په يو بل د خوشحالۍ سوغاتونه اوويشو چې زمونږ ماحول سپرليئز شي.

زۀ نسـيم کلـه د ذات خبـره نـه کـړم
چې ګاؤنډ زما ښېراز وي زۀ شادمن يم

ډېر په مينه!
پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک
۱۲ نومبر ۲۰۱۲ د ګل ورځ

# د لفظونو سهرې

د سهرې د نوم اخستو سره د سړی په ذهن او زړۀ دواړو باندې د خوشحالو او مستئ د رنګونو باران راښکې شی . ولې چې اکثر د خوشحالو په موقع سهرې د درناوی په توګه یو بل ته ورکولې شی .

سهرې نه چې یوازې د خوشحالو د مېړه زیب و زینت اوګرځی بلکې دا سهرې د خوشحالو د مېړۀ سره د خپلو خپلوانو یارانو دوستانو او د ملګرو د مینې د اظهار او په دغه خوشحالو کښې د ګډون یوه ځلانده ائینه ده .

دغه سهرې د لږ وخت د پاره د چا په غاړه کښې مېلمنې وی او بیا د کمرې د دېوالونو سینګار اوګرځی . او د غسې د وخت تېریدو سره سره ورکې او نابوده شی . خو زۀ نن ستاسو سره چې د کومو سهرو ذکر کووم هغه د وخت تېریدو سره

ځوانېږي خو زړېږي نه دا کومې سهرې دي ، کومې چې ستاسو په لاس کښې په کتابي شکل کښې موجود دي.

دا هغه سهرې دي کومې چې د زلمي شاعر شبرزمان سيماب د واده د خوشحالۍ په موقع ادبي ملګرو د لفظونو نه د خپلو تخيلاتو په تار پيرلي دي او خپل ګران ملګرى شبرزمان سيماب ته ئې د ژوند په نوي لار د قدم ايښودو په وخت په ډېر درناوي سره وړاندې کړې دي .دا سهرې څه که د لفظونو نه جوړې دي خو حقيقت دا دے چې نه ئې يوازې د سيماب د وادۀ خوشحالۍ ژوندئ اوساتلې بلکې د دې سهرې ليکونکو شاعرانو د کلام نمونې هم د پښتو ادب د تاريخ په پاڼو کښې خوندي او محفوظې کړې.

دا د لفظونو سهرې په ښکلو ښکلو تشبيهاتو استعارو او د فن په ښکلاګانو مزين کړې شوې دي. هيله ده چې لوستونکي به ترې پوره پوره حظ پورته کړي.

شباب راڼيزے

ديارلسم نومبر ۲۰۰۳

تاڼه

د شېر زمان سيماب د وادهٔ په خوشحالۍ کښې

# محفل مشاعره

فضل معبود صائم

يادګېرنــه: د مشـــاعرې دا رودار د اووهٔ ورځنـــی هېواد اسلام اباد نېټه ( ۱۵ نه ۲۲ اکتوبر پورې) کال ۲۰۰۱ په شکريه دلته شاملوم (مؤلف)

شېرزمان سيماب د ملاکنډ ايجنسۍ د ادب خېزه، سياسی او تعليمی تاريخی کلی تانې اوسېدونکے او د خپلې علاقې د معروف ادبی تنظيم تانې ادبی ټولنې مشر سيکټر دے .په ۱۸ اګست ۲۰۰۱ د سيماب وادهٔ اوشو.خو د رواياتو مطابق د وادهٔ په ورځ يا په سبا له باندې د سيماب د وادهٔ مشاعره او نهٔ شوه . وجه دا وه چې درې مياشتې د مخه د سيماب مور بی بی په حق رسېدلې وه. سيماب مناسب نه ګڼل چې مشاعره پکښې اوشی.

اګر چې د هر شاعر دا خواهش او ارزو وی چې ملګری هغه ته د وادهٔ پـه خوشـحالۍ باندې پـه مشـاعره کښــې د شـعرپه ژبـه د ګلونو هارونه ور په غاړه کړی.دغه مشاعره کښې طنز هم وی او

مزاح هم، رومان هم او سنجيده کلامونو هم، خبره مې د سيماب د وادۀ د مشاعرې کوله. څو که سيماب نه غوښته خو ما او نورو ملګرو د مشاعرې تابيا اوکړه او يوه هفته پس په بل اتوار يعنې ۲۲ اګست ۲۰۰۱ء د سيماب د وادۀ په خوشحالئ د مشاعرې نېټه مقرر شوه . د سيماب خيال وو چې ملګرو له به ځان له پروګرام اوکړم خو د بعضو ملګرو په وېنا پروګرامونه په يو ځائے شو.

ګورنمنټ هائی سکول نمبر ۱ تانه کښې د خپل تاکلی شوی وخت نه يوه ګهنټه په تا خير سره يعنی په زيړی مازيګر مشاعره شروع شوه . د محفل صدارت د ضلع دير خانپور کلی اوسېدونکی په پېښور کښې ميشته اسلاميه کالج پېښور پروفېسراباسين يوسفزی اوکړو. د خصوصی مېلمنو په کرسو د ( زاره چاودی مزلونه) مصنف محمد حنيف قېس او د ( ژوندی وزر، رانښکلی غشی، زرغون زيری، نسکورې لپې ) خالق ډاکټر ديدار يوسفزے هم ناست وو . د نظامت يعنې د سټېج فرائض راقم الحروف څه ښه بد تر سره کړل . د رواياتو تر مخه د مشاعرې باقاعده اغاز ملګری نعيم رېحان د قران پاک د سورة



Pukhto.Net

رحمان د څو مقدسو ایاتونو نه وکړو ـ محفل مشاعره کښې د توقع نه زیات شاعران راغلی وو ـ د دومره زیاتو کسانو توقع ځکه نه وه چې دعوت نامې په وخت او په خپل لاس نه وې رسېدلې بیا هم په پښتو ادب مئین او د سیماب په خوشحالۍ خوشحاله شاعران راغلی وو ـ د څو ملګرو شاعرانو نه علاوه نورو ټولو د غزلو سره سره د مبارکۍ نظمونه، سهرې او د موقعې په مناسبت سره نظمونه، هائیکو او قطعات وړاندې کړل محفل مشاعره په بنده کمره کښې وه ـ سپک سپیکر او د ویډیو کېمرې انتظام شوې وو ـ د بټ خېلې ملګری او د پام غړی محمد اقبال اقبال خپله باندې ویډیو ریکارډنګ کوؤ ـ یو وخت کښې د ملګرو په بیا بیا فرمائش کېمره مېن سټیج ته راوبللې شو خو صرف یو رنګینه لطیفه ئې اووئیله او محفل ئې یو په دوه روښانه کړو ـ ټولو شاعرانو په برق برق وخندل او ډېر ساعت د لاسونو پرقار جوړ وو ـ دا محفل د ماښام د تیارو په خورېدو پائې ته اورسېدو ـ

# دا سهرې

په پښتو ادب کښې د ودونو ښادو په موقعو د خوشحالو د منظوم اظهار روايت خپل قدامت لرى . د زلمى او پېغلې ملګرى راغونډېدل او د هغوئ د ټوقو ټقالو او خنداګانو سره محفلونه به نزدې نزدې د نړۍ په ټولو قومونو کښې رواج لرى . هم دغه د ستور د پښتني ټولنې هم د ے . چې څنګ د ناوې سره په څنګ کښې ملګرى ناستې وى داسې د زلمى سره هم خپل ياران په خوا کښې ولاړ وى . د دې ټولنې د خوشحالۍ د منظوم اظهار دا روايت او قدامت د پښتو د دې ټپې نه څرګنديږى چې:

خانه ښادى دې مبارک شه

اهل ښاديان دې په ښادۍ راغلې دينه

دغه اهل ښاديان هغه ټول مېلمانه وى چې د خوشحالۍ د دغه موقعې په اړوند تشريف فرماوى . بيا داسې د وادهٔ ښادۍ په موقع هغه ( مخصوص د وادهٔ ښادۍ) اولسى سندرې لوبې مصريزې وغېره چې په کورونو کښې ئې جينکۍ او په حجرو

ښېټکونو کښې ئې هلکان د رباب منګی سره وائی .هم د دې موقعې په مناسبت سره د خپلې خوشحالۍ د اظهار په رنګ کښې رنګ وی. ولې دغه خوشحالیانې چې په منظوم ترتیب کښې مرتب کیږی په غېر محسوس طریقه زمونږ د اولسی ادب برخه ګرځی. او غېر شعوری طور سره د ژوند د دغه اهمې موقعې واقعه که قلم بند کوی نه خو سینو ته ئې کوزوی ضرور او بیا دغه منظومات سینه په سینه راروان وی.

د نور اولس غوندې شاعران او لیکوال هم په خپلو ودونو ښادو کښې د خپلو نورو غېر ادبی ملګرو نه علاوه خپل ادبی ملګری لیکوال، شاعران مدعو کوی. چې پکښې د غېر طرحې مشاعرې نه علاوه شاعران د وادهٔ زلمی ته د خپلو خوشحالو احساسات د منظوم تاثراتو په شکل کښې وړاندې کوی .د ډېرو نورو داسې مشاعرو په رنګ د راقم د وادهٔ په سلسله کښې هم یو خوندوره مشاعره شوې وه .چې راغلې شاعرانو ملګرو (اهل ښادیانو) په دې موقع خپل منظوم تاثرات وړاندې کړی وو. کوم چې د راقم له خوا تالیف شو او ستاسو لاسو ته در ورسېدو.

د دې سهرو ارزښت زما له فکره دا نهٔ دے چې دا د راقم د وادهٔ سهرې دی. بلکې دا د دې ګل فکره شاعرانو درنه فنی او فکری اثاثه ګڼم .چې د دوئ د فکر و نظر له مخه د پښتو د شعری ادب یوه سپېڅلې نمونه ده . د ودونو سهرې داسې وی چې د دې چاپ هم ډېر نه کيږی .او لکه د هغه اولسی سندرو د قلم بندۍ نه پاتې شی. بله دا وی چې يو شاعر دوه څلور سهرې وليکی نو هغه ورسره پرتې وی .د کلام چاپ کولو په وخت ورته هم ضرورت د دې خبرې وی چې نور کلام چاپ کړی چرته خال خال داسې شوې چې څنې شاعرانو په خپلو مجموعو کښې د چا ملګری يا رشته دار د وادهٔ په موقع ليکلی سهره ځائے کړې وی. ګنی داسې خورې ورې پاتې وی . او يا د چا شاعر په وادهٔ کښې دوه څلور سهرې که څوک وړاندې هم کړی.نو هغه د وادهٔ خاوند ئې د چاپ مناسب موقع نه مومی .يا ترې کتاب نه جوړيږی ولې داسې ده چې دا سهرې په دومره شمېر کښې دی چې کتاب ترې هم جوړېدے شی .او بله دا چې زهٔ ئې د پښتو ادب اثاثه ګڼم ، او ده هم، چې اولس ته ورسی نو دا به خپله ادبی ذمه داری پوره کړم .دې سره دا

سهرې چې زما ملګرو ما ته د خپلې پښتنې مينې سره وړاندې کړې دی.تاليف کول ئې دا مدعا هم لری چې د ملګرو دغه ګل ګل فکرونه په پښتو مئينو خپلې خوشبو ګانې پېرزو کړی .او د پښتو ادب په لمن کښې خوندی شی .بلکې دې پسې د هغه سهرو چاپ کولو هڅه هم لرم .چې ما خپلو ملګرو ته د مبارکۍ په طور وړاندې کړی دی.

په پښتو ادب کښې په کتابی شکل کښې د سهرو چاپ کولو روايت نۀ زوړ دے او نۀ نوے.په دې چې تر دې دمه زما د اطلاع مطابق درې مجموعې د سهرو په لړ کښې تاليف شوې دی .وړمبۍ اروابښاد محمد نواز خټک د خپل ځوئ دوادۀ سهرې د ډولۍ په نوم تاليف کړی او شائع کړې دی .دويمه مجموعه پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت د مردان د پير طلا محمد باچا د ځوئ پير امجد د وادۀ سهرې د (وربلو نه چې سمسور شی) په نوم چاپ کړی ده او دريمه مجموعه د پروفېسر ډاکټر علی خېل درياب د رنګونو په لار د خوشبوګانو سفر چې د موصوف د وادۀ سهرې دی تر چاپه رسېدلی ده . (شايد چې نور چا هم دغه زيار کړلے وی .ولې په ذکر نه کولو

ئې له دې وجې بخښنه غواړم چې زما تر مخې ئې ذکر قدرې هم نۀ دے راغلے) د راقم دا زيار هم د دغه تسلسل کړۍ اوګڼئ او خدائے دې اوکړی چې د سهره نګارۍ د تسلسل دا زنځير نور هم اوغوزيږی. او د پښتو منظوم ادب د يو باقاعده صنف په توګه متعارف شی په سهره نګارۍ کښې د پښتنو د تهذيب، تمدن اوکلتور د ښبانو د محفوظ کېدو سره طنز و مزاح، توقې ويشې او نصيحت اموز او سبق اموز خبرې هم خوندی کېدے شی.

په دې موقع زۀ د دغه ملګرو يو ځل بيا شکريه ادا کوم چې ما ته ئې د خپل فکر و فن د ګلدستې ډالۍ راپېرزو کړی ده .د کومې خوشبوګانې چې يوازې زما د پاره نۀ بلکې د پښتو ادب د پاره د قدر وړ او ګټورې دی. او خدائے دې وکړې چې دا هم په داسې ډول د پښتو ادب په لوستونکو خپلې خوشبوګانې وروی.

په درناوی
شېر زمان سيماب
تاڼه ، ۱۸ جنوری ۲۰۱۱

## مننه

د دې کتاب د ترتیب او تدوین او چاپ په لړ کښې زهٔ د ګټورو مشورو دپاره د ګران ملګری پروفېسر حمید الحق خاکسار صېب د زړهٔ لـه کـومې مننه کـوم .پـه کتـاب د علمی او تحقیقی مقـالې (دیباچې) د پاره د خپـل ګـران استـاد پروفېسر ډاکټر محمد اقبـال نسیم خټک صېب مننه راوړم .د ګران ملګری شباب رانیزی هم مننه کوم چې دغه خوږ نثر لیک ئې د دې سهرو په اړوند راپېرزو کړو .د تانې ادبی ټولنې د صدر فضل معبود صائم هم د زړهٔ لـه

کومې مننه چې نۀ يوازې دغه ټوله مشاعره ئې راجوړه کړې وه بلکې بيا ئې د هيواد په پاڼو کښې هم محفوظه کړې وه. کومه چې نن په کار راغله او د دې کتاب په ښکلا کښې ئې اضافه وکړه په دې موقع د ګران نقيب احمد جان مننه هم په ځان منم او په تېره تېره د ګران او محترم مشر لوئے اديب او دانشور پروفېسر محمد نواز طائر صېب يو جهان مننه کوم چې په هر قدم ئې زما په سر د مينې او شفقت لاس کېښود ے دے. زما د ادبی کار او زيار ستائينه ئې کړې ده. محترم چې زما د وادۀ د مشاعرې په موقع د بيمارۍ له وجې پېښور ته تلے وو. ولې چې راغے نو ما ته ئې دا ليکلی سهره راکړه او وئيل ئې چې دا مې تا له ليکلی وه خو په موقع موجود نۀ ووم.

د تاڼې ادبی ټولنې د ټولو ملګرو او مينه والو ډېره مننه کوم چې وخت په وخت ئې ما ته د ډاډګېرنې او حوصله افزائۍ جولۍ جولۍ مينه راکړې ده.

په ډېره مينه!

شېر زمان سيماب

# واده

## د زلمي شاعر شبیر زمان سیماب د وادۀ په موقع

پروفیسر محمد نواز طائر

کور کښې ښادي څه شې وي څه ته وائي
کور ودانې څه شې وي څه ته وائي

جونه پلرونه مئېندې ولې پرېږدي
څوک چې زلمی شي وادۀ ولې کوي

وادۀ وي بل نوے اغاز د ژوندون
په حقیقت کښې امتیاز د ژوندون

Pukhto.Net

دا جوړوي مئینه دی پلرونه نوي
په دې سازېږی نور کورونه نوي

په وادهٔ نوے خاندان جوړېږی
په وادهٔ خپل کور د انسان جوړېږي

وادهٔ د نوؤ رشتو نوے زنځیر
وادهٔ د نوی نسل نوے تدبیر

وادهٔ د نوي ګلستان تمنا
وادهٔ د ځانله بیل جهان تمنا

وادهٔ د کور ودانول د انسان
کالهٔ کښې نوے باغ کرل د انسان

وادۀ عـــزت شـــرف تکـــریم درنـــاوې
وادۀ تعمیـــر تنظـــیم تخلیـــق ســـماوې

وادۀ د خپـــل کـــور ګلدســـته ســـمول
وادۀ ده خپلـــــه مرتبـــــه لـــــوړول

وادۀ دانـــۀ وي چـــې ځـــوزان اوکـــري
پـــه ګلســـتان کښـــې خارســـتان اوکـــري

وادۀ د ســـود د پېرزونـــې نـــوم دے
وادۀ د ښـــونې د ښـــودنې نـــوم دے

وادۀ د ځـــان ســـره خـــواره راوړل وي
پـــه مینـــه تـــول کورتـــه نظـــر کـــول وي

وادۀ وي دا چــې خپــل تــه خپــل اووائـــې
د خپلخـــانې هـــر ګـــل تـــه ګـــل اووائـــي

د مينـــې هـــر يـــو تـــار مضـــبوط غوټـــه کـــړي
د خـــونې هـــر يـــو کـــار د کـــور ګټـــه کـــړي

چـــې پـــه ايثـــار پـــه قربـــانۍ خبـــر شـــي
هـــم پـــه خـــوږه زنـــدګانۍ خبـــر شـــي

د رواجـــې قيصـــې رنګينـــې نـــوم وي
وادۀ پـــه اصـــل کښـــې د مينـــې نـــوم وي

ســـيمابه تـــه چـــې د وادۀ زلمـــے شـــوې
پـــه دې خبـــر شـــه د کالـــۀ زلمـــے شـــوې

ســـتا ګلســـتان د ګلـــو ډک شـــه ګلـــه
دغـــه ښـــادي دې مبـــارک شـــه ګلـــه

# د يو پاګل خبرې

## د ملګرې ګران شېر زمان سيماب د واده په موقع

**لائق زاده لائق** (ريډيو پاکستان پېښور)

دي هوښيارانو وئيلي
چې څوک کوئيدنه اوکړي
بيا ترې ياران پاتې وي
بس څه بهانې لټوي
د خوابښې سخر سلام له
سحر ماښام روان وي
په تګې تګې نظر
د ليونو په شانتې
هر خوا ته مخ اړوي

## تل ارماني پاتې وي

ځکه چې دلته پښتو
د پوخ ترون نه بغېر
کچه نظر نه مني
بیا د کوئیدنې نه پس
چې د زلمي په غېږ کښې
وربل دا نه وانه شي
نو د زلمې په سترګو
داسې پردې راولي
چې د یارانو نه پس
ترې مور او پلار پاتې شي
بیا پرې د پلار خبره
لکه د تندر لګی
د نیاز بینانو خوئېندو
نازونه کله منی
بس د هر چا نه لرې

د يو وربل تيارو كښې
د لېونتوب شوګيرې
تر عمره عمره غوارې
دغه د مينې پاګل
چې د بچو با با شی
نو د يارانو نه پس
د مور و پلار نه وروستو
ترينه خپل ځان پاتې شی
ګرېوان شلېدلے ګرځي
وېښته تالاوالا كړي
نه د فېشن غمونه
نه د سينګار څه فكر
بس د بچو په خاطر
منډې رامنډې وهی
په دغه منډه منډه
د ژوند سحر ماښام كړي
نو

Pukhto.Net پښتو

يه لېونو ملګرو
زمونږ د فن ملګرے
د سيمابي فکرونو
دغه خود سره سيماب
اوس د وربل په ټال کښې
لاجوته شوے نه دے
لائې د حسن نشه
سر ته ختلې نه ده
د اورېدو توان لري
پوره پاګل خو نه دے
لکه هم ستاسو په رنګ
د يو پاګل خبرې
د تجربې په اساس
د بيا راتلونکې ژوندون
د لېونتوب د فکر
مبارکي به مني
ټولې جذبې به مني

## د خوږ ملګري شېر زمان سيماب د پاره د هغه د واده په موقع

پروفېسر اباسين يوسفزے
(اسلاميه کالج)

### قطعه

الله ښه په اسانه وکړو هسې خو ډير ګران وو
زما او د لائق او د افګار دغه ارمان وو(۱)
مونږ لږ په غم اخته وو چې دې هم پکښې اخته شو
الله ئې مغفرت وکړې سيماب هم ښکلے ځوان وو

### قطعه

نۀ د ځان شوې نۀ د پلار شولې پردے شوې
چې يو ډنګ درپسې وشو ډنګ ډنګے شوې
اوس به ايسته اورته انګه پيچه نۀ کړې
هلکوالے درنه لاړلو سړے شوې

## نظم

(اباسين يوسفزے)

بدرګه ورسره مينه بې حسابه
د وادۀ مبارکي واخله سيمابه
د خالونو توري هم ورسره لوله
خو غړۍ اوچته نۀ کړې د کتابه
تۀ ګل قند د ځانه جوړ کړه ځان مېده کړه
اے زما د ملاکنډ سمسور ګلابه
چې په ټوله پښتونخوا کښې ئې ممتاز کړې
د پښتو، پښتو دې ولېده جنابه؟(۲)

Pukhto.Net

دې پښتو سره به پت پالل پکار وي
چې خوره ده د حجرې نه تر محرابه
د ادب د قافلې مهار به اخلې
له طائر(۳) اوله نسيم(۴) اوله شهابه(۵)
که د قام بچې دې بېل ګڼې د خپلو
د شاعر نامه دې لر کړه له نصابه
پښتانۀ د علم کارته نارضا وي
لکه مست ځاروے چې تختى له قصابه
د همت پړے له ملا نه راچاپېره کړه
دا په ملاسته نۀ شي شا به شابه
اوس د وترې غم، د کر فکر پکار دے
اباسين دې پښتو نخوا کړله سېرابه

۱. لائق زاده لائق سينئر پروډيوسر ريډيوپاکستان او حبيب الرحمان افګار
۲. ايم اے پښتو کښې ګولډ مېډل اخستو ته اشاره ده
۳. پروفېسر محمد نواز طائر پخوانے ډائريکټر پښتو اکېډمي
۴. پروفېسر عبد الحق نسيم چې د ايم اے پښتو د وړمبې کلاس طالب علم وو
۵. زرنوش شهاب

# ســـــــــهـــــره

زړۀ ته نژدې ملګري او ځوان فکره شاعر شېر زمان سيماب ته

**محمد حنيف قېس** (**چارباغ سوات**)

## هـــائيـــکو

(١)

د هلــــــک والــــــي د ســــرحد واؤرېــــــدې
تــــه پــــرې خفــــه ئــــې کــــه خوشــــحاله ئــــې خــــو
اوس بــــه ايلــــه د ســــرېتوب خاونــــد شــــې

(٢)

دا نـــــوے نـــــوے اشـــــنا خـــــوږ وي مـــــنم
خـــــو زمـــــا روره دغـــــه خيـــــال بـــــه کـــــوې
چـــې د مـــودو اشـــنايان پـــرې پـــرې نـــۀ ږدې

Pukhto.Net

# سهره

**محمد حنیف قیس (چارباغ سوات)**

سیمابه ستا وادهٔ له زهٔ د څه سهره جوړه کړم
ما خپل خیال ستړے کړو په هر لوري مې وزغلوؤ
خو! هیڅ مې هم نه خوښېده، تاله مې چې څه خوښېدهٔ
نو! سیمابه ستا وادهٔ له زهٔ د څه سهره جوړه کړم

ما وئیل سیماب له به په سر یوه سهره تړمه
خو دې له هم به ډېر ښائسته ښائسته ګلونه غواړی
زهٔ د لفظونو د پیئلو جادو ګرنه یمه ؛

کنه په زړۀ کښې مې لفظونه هم ، رنګونه هم ډېر
بيا مې وئيل راشه د خپل سوات رنګونه ټول راټولوم
خو ابتدا د کوم موسم د کوم يو رنګ نه اوکړم
زړۀ راته وې چې د سپرلى خبر به اخلې اول
چې خوشبو ئى ئې د تانې په سمه غر خوره شي
ځکه مې خيال کښې په ګلونو پسې منډې کړلې
په هره پوله هر يو باغ کښې پسې اوګرځېدم
لاړم جولى مې کړه راډکه د شړشم د ګلو
بيا مې ډېر زر زر د رامبېل چامبېل ګلونه راوړۀ
بيا مې کړې منډې د غاټولو نه ورلاندې وتم
تنکى تنکى غندلګى ټول مې په غړو کښې مات کړل
د دې نه ورستو په ګلاب او په نرګس وراغلم
ما وئيل چې خوند پکښې هم ډېر شى او رنګونه هم ډېر
ما مې ګلونه اورنګونه ځان ته قط په قط کړل
د دې نه ما په ترتيب ښکلې سهره جوړه کړله
بيا مې د سور ورخاړي سرۀ ګلونه کېښول پکښې
بيا مې خوشبو له کشمالي پرې ځائے په ځائے وټومبل

بیا مې وئیل هسې نه سیماب مې د نظره کړي څوک
ما نظر ماتې له پرې کېښول د رېدي ګلونه
ما وئیل نور بس دے ځم په سر ئې د سیماب ترمه
ځکه په دؤ باندې راپاڅېدمه اودرېدمه
خو چې لږ خیال مې ورته اوکړو نو خفه پاتې شوم
ځکه چې هېڅ مې هم نه خوښېدۀ تاله مې چې څه خوښېدۀ
نو! سیمابه ستا وادۀ له زۀ د څه سهره جوړه کړم

بیا مې وئیل راشه یو ناشونے غوندې کار پکار دے
هغه څه اوکړه چې تر اوسه لاچا کړي نۀ وي
ما وې زمونږ په خواؤشا کښې خو مېوې ډېرې دي
دا به ښۀ نۀ وي چې د دې یوه سهره جوړه کړم

یوه تهوکرۍ مې زر پخې الوچې کورته راوړې
ما خپلې مور ته وئیل سنبال ئې کړه ځم نور څه راوړم
لاړم ګټې مې د تانګوانو املوکانو راوړه
د شلتالانو اومنو نه مې هم توکي راوړۀ

زما بچي وئيل انځران پرې هم لر کېږده کنه
دې ډډو ډډو ته پرې کېږده تکې سرې مرخنۍ
ورې لورکۍ مې وې زما خو خوبانۍ خوښې دي
پخې پخې دانې ئې کېږده چارچاپېره په سر
خيال مې کوۀ ما وې دا اوچه مېوه پاتې نۀ شي
دلته نور څه وي خو غوزان مې کاغذي پرې کېښول
بيا مې دې خيال لېوني بوتلمه د غره په طرف
وئيل ښار ته ځې د هغو خوښې وی د غرونو مېوې
هلته مې تور تور ماروړنګ اوکوري وشوکول
د غنو جاخ کښې مې کړې ټولې بګنۍ کروړې
نېمبو کور وو خو ما د غره ډمبره راوړه پسې
ما وئيل دا خوند چې ئې تر يو تريخ شي چې مزه پېدا کړي
بيا مې پرې ځائے په ځائے د سوات د ګبين څاڅکي وکړل
ما وې کېدېشي د سيماب مې دا سهره خوښه شي

خو چې لر خيال مې ورته اوکړو نو خفه پاتې شوم
ځکه چې ! هېڅ مې هم نه خوښېدۀ تا له مې چې څه خوښېدۀ

نو! سیمابه ستا وادۀ لـه زۀ د څـه سـهره جـوړه کـړم
بیـا مـې زړۀ وې دا نـن تـه څـه پـه اوتوبوتـو سـر ئـې
خلـق ګرمـۍ پـه سـر اخسـتی تـه مېـوې لټـوې
ځـان کـړه خبـر چـې ټـول مئیلس بـه پـه خولـو کښـې ډوب وي
دې لـه څـه یـخ یـخ څـه پکـار دي چـې سـاه واخلـي خلـق
یـو دم مـې ګـوتې لـه ټـق ورکـړو مـا وې دا بـه ښـه وي
داسـې محفـل یخـول غـواړي چـې برسـتن واغونـدي
زر مـې د فکـر پـه نیلـۍ بیـا لتـه واړولـه
لاړمـه لاړمـه د ژمـي مېـنځ تـه اورسـېدم
بیـا مـې د سـوات د ژمـي سـختې جـړې مخـې تـه شـوې
هاغـه جـړې چـې لاس اوخـپې بـه ګـانګوره وو پکښـې
د واۀرو ورځـې وې پـه مخـه وریـدلې واۀرې
غـر خـو تـک سـپین وو خـو ټـول پـولي پټـي سـپین پراتـه وو
مـا کـړه شـړې د ځـان نـه تـاۀ د کـوره اووتمـه
داسـې سـیلۍ وه چـې بـس غوښـې بـه ئـې وړې زمانـه
مـا بـر راټـول کـړه مـا تـرې لانـدې بـلا بـر کښېښـوده
بیـا مـې پـرې ښـکلې سـپینه سـپینه واۀره کښېښـودله

د چنار پاڼې مې پرې کښېښودې چا پې مې کړله
ما وې چې کلکه شي په لاره راته ويلې نهٔ شي
بيا لاړم غرهٔ ته د کلام وړپسې اوختمه
ما د رنځوره نه څانګې ماتې کړې چې دا به پرې ږدم
څو منګوټې مې هم د يخو اوبو ډک کړهٔ پسې
د ددې د پاره چې چاپېره ئې د واورې کېږدم
په چل هنر مې يخه يخه سهره جوړه کړله

دومره وه يخه چې تول لاس مې ګانګوړه شو تېښته
ما وئيل ځم واوره به په سر زهٔ د سيماب ترمه
دا منګوټې د اوبو ږدمه په اوګو به ورته
خو چې لږ خيال مې ورته اوکړو نو خفه پاتې شوم
ځکه چې! هېڅ مې هم نه خوښېدهٔ تا له مې چې څه خوښيدهٔ
نو! سيمابه ستا وادهٔ له زهٔ د څهٔ سهره جوړه کړم

******************

د ډېر ګران ملګري او زور ښاغلي شېر زمان سيماب

# د وادۀ سهره په ډېره مينه

**ظفر علی ناز مینګوره سوات**

**۲۶ اګست ۲۰۰۲ء**

مـا د خپـل فكـر د ورشـو نـه بهارونـه راوړۀ
سـتا پـه وادۀ مـې تـرې اشـنا تـا لـه سـهره جـوړه كـړه
مـا د خلـوص د ملغلـرو امېلونـه راوړۀ
سـتا پـه وادۀ مـې تـرې اشـنا تـا لـه سـهره جـوړه كـړه

مـا د خپـل وينـې وينـې وران ويجـاړ ځيګـر د ښـاره
مـا د خپـل تسـنې وسـنې مـات ګـوډ تصـور د ښـاره
مـا د خپـل سـوي او لمبـه لمبـه نظـر د ښـاره
مـا د خپـل ژونـد د زيـړ زبېخلـی مـازيګر د ښـاره
د خپلـو سـرو وينـو خـوارۀ وارۀ رنګونـه راوړۀ
سـتا پـه وادۀ مـې تـرې اشـنا تالـه سـهره جـوړه كـړه

زۀ د خپل خيال د رنګينو په ګلستان کښې ورک شوم
زۀ د خپل فن د ورشوګانو په دامان کښې ورک شوم
زۀ د خپل فکر په خاموشه بيابان کښې ورک شوم
زۀ د مستئ نه د خپل ځانه په خپل ځان کښې ورک شوم
د زړۀ د کوره مې خپل ګل ګل پرهرونه راوړۀ
ستا په وادۀ مې ترې اشنا تا له سهره جوړه کړه

ما د پښتو د ناوې زلفو د تيارو د بېنې نه
ما د الفت د سحرونو د وږمو د بېنې نه
ما د سپوږمۍ د زړۀ راښکونکو پلوشو د بېنې نه
ما د وفا د سندرئيزو پسرلو د بېنې نه
د محبت نتۀ رېږېدونکې سرۀ ګلونه راوړۀ
ستا په وادۀ مې ترې اشنا تا له سهره جوړه کړه

زۀ ژوبل ژوبل د دوران د حادثو راتېر شوم
زۀ پښې تنهاکې په تېره تېره ازغو راتېر شوم
زۀ د خپل سر د قاتلانو په کوڅو راتېر شوم

زۀ پــه خنــدا خنــدا ســتا درتــه پــه لمبــو راتېــر شــوم
مــا د خپــل ځــان ســره د خپــل زړګــي دړدونــه راوړۀ
ســتا پــه وادۀ مــې تــرې اشــنا تــا لــه ســهره جــوړه کــړه

مـا سـتا د نـوي ژونـد ښـکلا لـه پسـرلی راغونـډ کـړه
مــا ســتا ډولــۍ لــه د پتهــو نــه شړشــمی راغونــډ کــړه
مــا ســتا ارمــان لــه ارمانونــه د زړګــی راغونــډ کــړه
مـا سـتا نظـر لـه د هـر ځـائے نـه سـپېلنی راغونـډ کـړه
تــا لــه ډالــۍ مــې خپــل تــازه شــعرونه راوړۀ
ســتا پــه وادۀ مــې تــرې اشــنا تالــه ســهره جــوړه کــړه

مــا پــه خپــل زړۀ کښــې کــړو تــازه د مینــې اور ســیمابه
ســتا د الفــت د دړد ســندره مــې کــړه شــور ســیمابه
ستـا خـو زړۀ روغ شـو چې جانـان دې شـو تـر کـور سیمابه
خـو څـه بـه ښـۀ وې چـې حیـات دې وې نـن مـور سـیمابه
نـــاز دې خـــوږ زړۀ لـــه د لفظونـــو تکورونـــه راوړۀ
ســتا پــه وادۀ مــې تــرې اشــنا تــا لــه ســهره جــوړه کــړه

سهــــــره

په ډېره مينه د ګران ملګري ښاغلي شېر زمان سيماب د وادۀ په موقع پېرزوٌنه
(ډاکټر ديدار يوسفزے)

Pukhto.Net
پښتو

# قطعه

کــــۀ ســــينه دې ســــمندر کړلــــه ســــيمابه
پــــس د هغــــې بــــه راج دار شــــې د ګــــلاب زړۀ
ســــيمابي فطــــرت پــــه يــــو څــــاڅکي درنېــــږي
اباســــين د مينــــې غــــواړي د دريــــاب زړۀ

# نظم

(ډاکټر دیدار یوسفزے)

خندنے ګل شي د ژوندون په دې بهار سیمابه
زما شاعر سیمابه زما فنکار سیمابه
شه مبارکه دې ښادي په زر زر وار سیمابه
زما شاعر سیمابه زما فنکار سیمابه

د هجر زهر به په لپو لپو څښلي وي تا
ښې نا کړدې د زمانې به هم زغملي وی تا
د اندېښنو د تلو سو د لاسه بیا بیا به دې
مرۍ د ډیرو ارمانونو خفه کړې وي تا
هم به احساس ئې ځانګولے په لوئے دار سیمابه

زما شاعر سيمابه زما فنکار سيمابه

د دشت په اور کښې چې به ناست وې د ګرېوان سېورې ته
ډير به دې ځير ځير وي کتلی د ارمان سېورې ته
چې بې مجاله، بې ارمانه، بې سکونه زړۀ دې
کښېناست دمې له په دمه د کوم جانان سېورې ته
هم دې په دې سېورې نصيب شه تل قرار سيمابه
زما شاعر سيمابه زما فنکار سيمابه

د تخيل په هر پړاؤ به وي ستا خيال تراشلې
د زړۀ په کور به ئې څهره وي د وصال تراشلې
ستا وريت شعور به پرې وي نوستی د ارمان رنګونه
چې د فن ګوتو دې وي کله په کمال تراشلې
دا تصور دې شه تصوير په خپل نګار سيمابه
زما شاعر سيمابه زما فنکار سيمابه

Pukhto.Net

دا رونړ امید دې د رونبانه سپین سبا زېرے شه
ستا د بقا، ستا د وفا ستا د حیا زېرے شه
د سترې ژوند په تکه سره غرمه قدم په قدم
لکه د څپر دې په زغل رسا رسا زېرے شه
لشه لشه وخت دې هم شه د ګلو هار سیمابه
زما شاعر سیمابه زما فنکار سیمابه

خو ښهٔ ئې پوهه چې لا مونږه بل جانان هم لرو
د یوې بلې سر بازۍ بل امتحان هم لرو
که یو جانان مو دمه ځائے دے نو دا بل مو منزل
په دمه ځائے کښې د منزل، په زړهٔ ارمان هم لرو
چې لر دمه شې نو به نور هم شې هوښیار سیمابه
زما شاعر سیمابه زما فنکار سیمابه

که یو ګرېوان دی کړو راټول نن د وحشت د لاسو
که ورله ورکړې تا بوسې د محبت د لاسو
خو بل ګرېوان درته ریښې ریښې دے پروت هغسې

درنــه ګینـدې پــه سکښــتو غــواړي د وحـدت د لاســو
ګــوري دې ســترګو تــه پــه طمــع هــر يــو تــار سـیمابه
زمــا شــاعر ســیمابه زمــا فنکــار ســیمابه

لاخپلــه ژبــه مــو پــه پښــو کښــې پــه جرګــو پرتــه ده
لا ئـــې ســپېره دوړه پــه ســر د اننګــو پرتــه ده
پــه دې بــې ژواکــه او بــې واکــه او نېســتمنو لارو
راتــه د خپلــې شــتمنۍ لويــه پښــتو پرتــه ده
لاس بــه پــه لاس کښــې ورکــوؤ پــه دغــه لار ســیمابه
زمــا شــاعر ســیمابه زمــا فنکــار ســیمابه

چــې مــې دا فکــر د کــوم وخــت نــه د ارمــان پــه زړهٔ د ے
ورتــه هــر خیــال پــه تصــور کښــې هــم اوبــهٔ اوبــهٔ د ے
چــې بــس هغــه پېژنــي ځــان ځــوک چــې جانــان پېژنــی
چــې بــس هغــه شــته پــه جهــان چــې ئــې جانــان شــتهٔ د ے
تــه هــم پــه زړهٔ کــړهٔ دا پېغــام د خپــل **دیــــدار** ســیمابه
زمــا شــاعر ســیمابه زمــا فنکــار ســیمابه

# شېرزمان سيماب ته ـــ سهره

محمد نعيم رېحان

ښه ده وادۀ د شېرزمان اوشو
هم ئې وادۀ هم ئې جانان اوشو

ودونه کېږی دا دستور دے د وخت
څو دا وادۀ څه په بل شان اوشو

دا خلق هسې شريعت نه مني
څومره وادۀ پکښې اسان اوشو

خدائے دې مونږ بيا د خوشحالۍ کړي خبر
چې د سيماب کره يو ځوان اوشو

هغسې خيال د خوئيندو وروڼو ساته
څنګ چې تر اوسه دې ګزران اوشو

Pukhto.Net
پښتو

هر څه ئې منه يو ئې دا مه منه
کوم چې د شپې درته بيان اوشو

روژې د صبر دې پوره شوے ياره
بس دے اختر اوکړه اذان اوشو

وکړه وصال د فراق شپې تېرې شوې
پاس شوې د مينې امتحان اوشو

اوس به غزل دې رنګينې پيدا کړي
ځکه ديدن دې د جانان اوشو

که خوشحال ژوند تېرے* عمل پرې اوکړه
نصيحت تا ته د رحمان اوشو

* تېروے

Pukhto.Net پښتو

خپل ګران اشنا شېرزمان سيماب صيب ته د هغه

# د وادهٔ په موقع

سيد صابر شاه صابر پېښور

ښځهٔ شوه چې خپله لېونۍ دې کورته راوستله
اوس به دې زهر زهر ژوند کښې څه لذت پيدا شي

د زلميتوب ، د لېونتوب ژوند څه شهل شهل وي
ژوند خودې اوس شروع شو اوس به دې عزت پيدا شي

اول نيمګړے وے، نيمزاله وې، او اوس پوره شوې
چې د نکاح په مقدس لباس اشنا ښائسته شوې

* په شکريه د ورځپاڼې وحدت پېښور

شېر زمان سيماب ته

# د وادۀ مبارکي

شهزاده پرنس تانړه

سيمابه مبارک دې د وادۀ شه خوشحالي
راغلي مېلمنو ته په جار وايم هر کلي

دا ستا په خيال سيمابه د چمن ګلونه ډېر دي
د للمې دا ګلونه دي په ټولو کښې ډولي

مولا دې نورې ډېرې خوشحالۍ ستا په نصيب کړي
قائم دايم دې تل وي ستا سو ښکلې رورولې

اے پرنسه دا د زړۀ په دعاګانو باندې کېږي
د رب د دره رامه شه لاسونه دې خالي

سیماب ته د هغه

# د وادهٔ په موقع

محمد طاهر شاه یاسر خادګزی کوز دیر

چې ستا روح ئې منتظر وو د اغاز د زلمیتوب نه
د هغې سپرلي وږمې او رنګینی دې مبارک شه

د هجران په تورو شپو کښې په کاږنو لارو تللې
د ژوندون د غرهٔ د پاسه دا سپوږمۍ دې مبارک شه

چې دې زړهٔ ورته بېتاب وو او نظر به دې سیماب وو
دغه ورځې دغه شپې د زندګۍ دې مبارک شه

## د ملګري شبرزمان سیماب د واده په موقع

# د لفظونو ډالۍ

بخت بلند بلند بریکوټ سوات

Pukhto.Net پښتو

### قطعه

تنــده ماتــه د لـــوئې زغـــل شـــوه مبـــارک شـــه
د ارمـــان غـــوټۍ دې ګـــل شـــوه مبـــارک شـــه
هغـــه ســـتا د تصـــور روښـــانه شـــمع
ســـتا د ژونـــد د لارې مـــل شـــوه مبـــارک شـــه

# نظم

**بخت بلند بلند بریکوټ**

ښهٔ شوه چې ګل شوه د اشنا د ارمانونو غوټۍ
چې په خندا شوله دا ستا د امیدونو غوټۍ
ښه شوه چې راغلے پسرلې شو په چمن د مینې
ستا مالي ستا په انتظار وو د کلونو غوټۍ
دا د چا ستړے انتظار دوام ته اورسېدو
چې په مسکا ده ورته نن د سرو ګلونو غوټۍ
ترو تازه دې وي خېرازه دا چمن د مینې
اے ستړي زړونو له ارام د بهارونو غوټۍ
ستا به د حسن دنیا نوره پکښې وده وکړي
ساتلي نهٔ دي مونږه هیچا ته په زړونو غوټۍ
وائي بلنده چې مبارک شه بې تابي ختمه شوه
مړاوی دی نهٔ شي د قسمت په خزانونو غوټۍ

## سهره

# د شېرزمان سيماب په وادهٔ

(محمد طاهر مغموم اله ډهنډ)

ډېر مبارک دې شه وادهٔ سيمابه
دلته قبول مې کړه راتلهٔ سيمابه
دا څو بېتونه په تحفې کړه قبول
دا مې په طور د سهرې کړه قبول

دا خوشحالي ده د جهان خوشحالي
په مخ د زمکې هر انسان خوشحالي
هر څوک خوشحال شو شېر زمان سیمابه
ستا روښه، پلار هم خپل خپلوان سیمابه
ستا د ځوانۍ چمن سمسور دې وي تل
ستا د زخمي زړګي ټکور دې وي تل
نوې سفر کښې اوسې ښاد سیمابه
خدائے دې پوره کړه هر مراد سیمابه
ستا د ښائست ښکلې ګلزار نصیب شه
ستا کامیابي په نوي لار نصیب شه
د غم د پنجې نه ازاد اوسې تل
سیمابه تته ښاد او اباد اوسې تل
ستا دې نصیب شي خوشحالۍ د ژوندون
خوشبويۍ واړه رنګینۍ د ژوندون
د معصوم ده درته دعا سیمابه
خدائے دې روښان کړه په دنیا سیمابه

Pukhto.Net

# سـهــــــره

**ډېر ګران ملګري شېرزمان سیماب صېب ته د سهرې په شکل کښې د مینې پېرزوینې وړاندې کوم**

صـــابر ســـوات

ستـا پـه تالـه ترغـه ګلشـن د ښـکلا زېـرے راغـے
زړونـه يـو کيـږي جـوړې نـن د اشـنا زېـرے راغـے
ملګريـه ختمـې شـوې تيـارې د رڼـا زېـرے راغـے
اخـر څرګنـد شـو حقيقـت د سـبا زېـرے راغـے
ځکـه ډالـۍ د محبـت لـه دې رنګونـه ګـورم
ګـرځم سـهرې لـه دې ملګريـه سـره ګلونـه ګـورم

مـا نـن راغونـډ کـړۀ د زړۀ چـاودي انتظـار ګلونـه
د ملاکنـډ ديـر، بـاجوړ نـه د بهـار ګلونـه

د پېښور او هشنغر او د نوښار ګلونه
د سوات د سیمې د هر کوټ نه د سینګار ګلونه
اوس قافلې له دې د جنج بل مشالونه ګورم
ګرځم سهرې له دې ملګریه سرۀ ګلونه ګورم

ښکارې چې رند هم جوړ ستومانه په پیالو شولو نن
څکه جام لاس کښې د ساقي په ګډیدو شولو نن
شراب شو مست ګوره اوړ پورې په پیالو شولو نن
زېړے د چا ښکلي محفل ته په راتلو شولو نن
مست اننګو له د خمار ژوندی رقصونه ګورم
ګرځم سهرې له دې ملګریه سرۀ ګلونه ګورم

یو خوا تیارې ګډېږي بل خوا رڼاګانې اشنا
تل په محفل دې ستا خورې وي خوشحالیانې اشنا
مدام نصیب دې د دلبر شه ادګانې اشنا
هم دې پېرزو د یار د مخ شه ښکلاګانې اشنا
خامار د زلفو د جانان له دې د مونه ګورم

ګرځم سهرې له دې ملګريه سرۀ ګلونه ګورم

نن د سبا زېرى په لوري ستا پېغام راوړو
د ژوندانۀ ستړو قيصو له ئې ارام راوړو
اوتر اوتر سترې کاروان له ئې مرام راوړو
تا له د ژوند نوے ملګرے ئې انعام راوړو
د انتظار ختمې ګهړۍ له امېلونه ګورم
ګرځم سهرې له دې ملګريه سرۀ ګلونه ګورم

د نوي ژوند نوے ملګرے دې روښانه وي ستا
دا دې د پلار او خوئيندو روڼو قدردانه وي ستا
تل دې د کوز پنه وړو لويو مهربانه وي ستا
مدام خوشحاله دې ، دې کور کښې کور ودانه وى ستا
صابر ، سيمابه درله لاړ کښې بهارونه ګورم
ګرځم سهرې له دې ملګريه سرۀ ګلونه ګورم

Pukhto.Net

د شېرزمان سيماب

# د وادهٔ په موقع

محمد جاوید اظہر

تيـارې سـبا نـهٔ شـوې د ظلـم پـه دې قـام سـيمابه
بـل د فـن شـمع دې سـاته داسـې مـدام سـيمابه

اوس بـه پـه خپلـه بانـدې پوهـه شـې پـه راز د حسـن
ژونـد کښـې دې راغـے اخـر داسـې يـو مقـام سـيمابه

رفتـار کـه هـر څـومره ئـې تېـز وي د منـزل پـه لاره
لېـوني خامخـا راګېـر شـي پـه دې دام سـيمابه

د زرهٔ پـه ځـائے بانـدې چـې اووايـو پـه ژبـه ريښـتيا
نصـيب زمـونږ بـه شـي د عشـق هغـه مـرام سـيمابه

اظهــر دا غــواړي چــې پــه هــره کوڅــه اولــوغړېږم
د شـوق سـفر چرتـه ختمـېږي پـه يـو ګـام سـيمابه

# سهره

**د خپل خوږ ملګري او ګل فکره شاعرشبرزمان سيماب د کوږ وداني په موقع د مبارکۍ په لړ کښې دا څو لفظونه ډالۍ ـ**

خيال سهد ابادی

ښۀ شوه چې زمونږ په شان فکرونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

ښۀ شوله ملګرېه ګوربېدلے چې به ځان سره
سوچ کښې به هر وخت مشغولېدلے د خوبان سره
خوب به دې اوس هم وی خو رنګين به نۀ وي هغه شان
اوس به اودۀ کيږې خو اشنا غم دوران سره
پرق که په مخ نۀ وي شالقونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

ځکه چې وادۀ نه پس ځوانۍ کښې به فرضې ګرځې
روغ رمټ بدن کښې به په شان د مرضې ګرځې
کور کښې به اوس زیات ئې اشنا مونږ درنه دمه به شو
غم کښې به د بل تل ، همیشه به غرضې ګرځې
خورې په ناشسته ګنې برېښونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ ځه دے خو غمونه درپه غاړه شو

ما به درته وې صبر کوه خو تا تادي اوکړه
خانه بربادی ده، تا که خانه ابادي اوکړه
لړه موده پس به بیا الوته کچا لو وائې
ځان سره دې خپله چې په شان د یو پردي اوکړه
ځه په لاره خوره اوس تیند کونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ ځه دے خو غمونه درپه غاړه شو

اوس به دې غزل نه یاره هغه رنګیني زغلي
شوخ تخیلات به ترې په شان د لیوني زغلي
شعر کښې جذبې په ځائے مقصد به دې ځائېږی اوس

عقل به ټيکاؤ خوري خو دې مار به دې ځواني زغلي
تکې تورې زلفې سم دامونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

خدائے شته که تش ورشې کورته څۀ خو به ضرور وړې
وځکې د ترخ جيب کښې ښکاره لاس کښې به انګور وړې
دا خو دے متل چې د اوښ غلا په ټيټه ملا نۀ شی
خاص تحفه په بډه به انار ورله ضرور وړې
هېره مې کوپره وه بادامونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

لسته د فرمائش به اوس ضرور اوړې ليکلې ته
غلېب کښې به سودا اخلې ورځې به کورته غلې ته
وُبه ګرځې سر دربانـدې هغه وخت چې دا ، واورې
دا دا څيز ښۀ نه دې مړه، راوړۀ دې نه ښکلې ته
کورته وړل په بډه صابونو نه درپه غاړه شو

مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

اوس د چا خبره به کړه هم تا ته نېغه وي
وريژي به خوړې وي ورکښې مالګه که بې دربغه وي
هغه لطيفه چې به تا وې، په تا درتين شو له
کور نه به په دۀ زغلې هغه که اېغه نېغه وي
ښه شوه د سېندلو ګذارونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

ښکل کړه تشبيهات غېږ کړه چاپېر استعارو ځنې
څۀ مزه رانه نۀ اخله څو خوند د تيارو ځنې
خيال ورته کتوه خورمه قسم چې دعاګانې دي
ويره دي رانۀ شي په حالت کښې د خېرو ځنې
خيال وائې اشنا لاخو کارونه درپه غاړه شو
مړه وادۀ څه دے خو غمونه درپه غاړه شو

# عـــــروسئ سیـــــماب

ناصرامین

## ۱۔ جنجال

بہت شادی شدہ لوگوں نے سمجھایا تجھے ہوگا
کہ اس جنجال سے تم دور ہی رہو تو بہتر ہے
نہ جانے کیا ہوا سیمابؔ کو اس ایک ہفتے میں
کہ جس کی عمر تھی کل تیس اب دیکھو تو ستر ہے

Pukhto.Net پښتو

## ۲۔ تعارف بہ زبانِ سیمابؔ

شادی سے پہلے میرا تعارف یہی تو تھا
شاعر ہوں ، شعر کہتا ہوں اور شیر میرا نام
شادی کے بعد ایسا تعارف بدل گیا
نہ شیر ، نہ شاعر ہوں یہی ہے میرا کلام

## د ګران ملګري شېرزمان سيماب دپاره سهره

فاروق شاه ساحر

د چا د لاسه چې په زړۀ کښې دې وو غم سيمابه
څنګه ئې اومنې چې نن دې شوه صنم سيمابه
کوم چې په خوب او تصور کښې يو تصوير وو د تا
کوم چې په ژوند د شاعرئ کښې يو تعبير وو د تا
کوم چې دې ځان وو هم جهان او هم ارمان وو د تا
کوم چې دې جام وو هم جنون وو هم جانان وو د تا
کوم چې دې ساه وه دلربا وه مدعا وه د تا
څوک چې شهې وه درخانۍ وه اوليلا وه د تا

Pukhto.Net

د چا د لاسه چې دې تور او هر الزام اخستے
د چا دپاره چې د دار په سر دې ګام اخستے
د چا د پاره چې په اور کښې د هجران سوزېدې
لکه د شمعې په خپل غم په خپل ارمان سوزېدې
د چا د پاره چې دې غم او شاعري کوله
د چا د پاره چې دې اور کښې زندګي کوله
د چا د لاسه چې په شونډو به پارونه دې وو
د چا د لاسه چې په خپو کښې زنځيرونه دې وو
د چا د لاسه چې په خپلو کښې پردے به وې ته
د چا د لاسه چې مجنون او لېونے به وې ته
د چا د لاسه چې دې ځان سره جنګونه کول
د چا د لاسه چې دې هر وختې ويرونه کول
نن چې هغه دې په نامه شوه او غيرت شوه د تا
څوک چې دې مينه محبت وه هغه پت شوه د تا
اوس به په مينه کښې هېڅ تور او هېڅ الزام نه اخلې
اوس به د دار په سر ته هېڅ کله هم ګام نه اخلې
اوس به په اور کښې د هجران هېڅ کله نه سوزېږې

اوس بـه پـه ځـان او پـه ارمـان هـيخ کلـه نـه سـوزېږي
اوس بـه ئـې هـر وختـې پـه يـاد کښـې شـاعري کـوې تـه
اوس خــو بــه يــاره ښــه خوشــحاله زنـدګي کـوې تــه
اوس بــه داســتا پــه شــونډو نــه ويــنم پاړونــه د غــم
اوس بـه پـه سـترګو کښـې دې نـه ويـنم موجونـه د غـم
اوس بــه دنيــا هــيخ کلــه تــا تــه ليــونې نــه وائــي
اوس بــه دا خلــق د دنيــا تــا تــه پــردې نــه وائــي
اوس بــه هــيخ کلــه زمــا ګلــه تــا پــه ويــر نــه ويــنم
اوس بـه هــيخ کلـه تـا پـه مينـه کښـې زهيـر نـه ويـنم
اوس خنــداګانې رڼاګــانې خوشــحالۍ بــه ويشــې
اوس د نــرګس او د ګــلاب ډکــې جــولۍ بــه ويشــې
اوس خـو ځـه ټول عمـر پـه مينـه کښـې نغمـې بـه ليکـې
اوس د زلفــانو د رخســارو قصــيدې بــه ليکــې

***********************************

******************